مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: کلنل سرهنري میکماهن
ژباړه، څیړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید
۲۰۲۲/۱۲/۲۸

# ورځـلیـک

## (روزنامچه)

## (د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

### یوویشتمه برخه

(CONFIDENTIAL)

DIARY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31st DECEMBER 1906 TO 7TH MARCH 1907

**(محرم)**

**(د هند ملي آرشیف – بهرنی څانګه)**

د افغانستان د تولواکمن لپاره د ځانګړې دلې او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سرهنري میک ماهن

لیکوال: کلنل سرهنري میکماهن

ژباړه، څیړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۱۳۹۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

تیره شپه له ماښامني وروسته، استوګنځي ته د راتګ په ترڅ کی ما امیرته وویل چی که دی نه خپه کیږي کیدای شي چي مورمیجرویکتوربروک ته اجازه ورکړو،ما داورته په ډاګه کړه چي هغه غواړي ځان بیرته کلکتي ته ورسوي او هلته داس ځغلولد سیالیوکپ په لوبه کي ګډون وکړي، که چیرې هغه نن شپه د میل په واسطه خپل سفرپیل کړي کیدای شي چي یودوه ساعته ترلوبي وړاندي هلته ورسیږي.امیروویل، سمه ده بروک په هرډول چي کیدای شي باید ولاړ شي،هغه زیاته کړه چي غواړي له هغه سره نن وګوري اوهیله یې وکړه چي هغه ته افغان حکم اوآرډرهم ورکړي، ځکه یې وویل : کولای شم چي ویسرای ته تلګراف وکړم او دده اجازه تري واخلم آیا داډول حکم به دهغه لپاره دمنلو وړوي؟

ما یوځل داتلګراف وکړخو زرمي ځواب ترلاسه کړ چي ،سره له دی چي دا دخوشالي وړخبره ده خوعالیجناب نه شي کولای داډول اردرونه مونږ ته را واستوي ځکه چي منل یې ګران دي،خو له دی سره هم موږدغه حکم چي اوس ورکړه شوی زموږ له خوا منل شوی دی .

ما ویکتور بروک نن سهارامیر ته ور واستاوه، له هغه سره دده دموټر سپرلی د وتو پرمهال دهغه ملتیا وکړه، امیرد بروک د اس لوبی له سیالي سره ډیره لیوالتیا وښوده اوهغه ته یی لس پونده دځان له خوا داس لوبي د وړلو پرلامل ورکړل .که چیری هغه دا سیالي وګټله باید چي بروک بیرته هغه وری شرط امیرته دیوی ډالی په توګه ورکړي .

لکه څنګه چي د ویلو وړده دامیراوس په رښتیا دامنلي وه چي نورنو باید سبا له هنده ولاړشي. له همدې امله زه هم دتګ د اسانتیاوو دبرابرولوپه کارکي بوخت وم،هغه نن خپل یوزیات شمیرکسان د ډکی پرلوراستولي وو، چي معنایی همدغه تیاری و .

دامیرد سفرپه اړه پیښورآوازو پرسراخیستی و، دا سمه وه لکه چي یوه سنیرانګریزی چارواکي له ما وپوښتل چي دا رښتیا ده چي امیرهره ورځ له انګریزي حکومت څخه (۲۰۰۰) پونډه ترلاسه کوي؟ یوه بل غوښتل پوه شي چي دا رښتیا ده لکه چي راپورونه پیښورته را رسیدلي چي امیرد خپل سفرتوله برخه په پرله پسي عیاشیواو ناوړتیاووسره تیره کړه ؟

داډول آوازي چي زموږ په قلمروکي پرده پسي خپریږي ، نوکله چي دی افغانستان ته رسیږی اوپه خپل کارپیل کوي هلته به څه حال وي؟ هلته تراوسه هم داسي خلک شته چي دوی به ترهغو پوري ځو امیرافغانستان ته رسیږی پرهمدغو آوازو باندي بوخت اوباوري وي .

په ماسپښین کي ما امیرد (های لنډ) سپورتی لوبوته چي د های لنډ پرپله باندي اوس په پیښورکي رواني وي وخوځاوه. ښکاریده چي دی خوشاله دی اودهغو کسانو پرلیدوچي ده په پیژندل دخوښی احساس کوي. هغه ته د بلک واچ میزپرکپ باندي هرکلی شو، دکلنل میرمني د پرووست سرجن میرمنه ورته راوسته ، امیرهغي ته څه ګینڼه چي ددې لپاره یې راوړي وه ورکړه،له هغه وروسته موږ د موټرپه سپرلی خپل استوګنځي ته راوړل شوو ځو دمیلمستیا لپاره دجامو بدلولو بندوبست وکړو .

نن شپه موږ د( سرهارولډ دیني ) له خواو یوې لویې میلمستیا ته بلل شوي وو. موږهلته پرخپل وخت برابرورسیدو اود (۷۰) تنوپه غونډه کي موبرخه واخیسته ، ماښامني مو په خوښی سره وکړه، په وروستیوکي یې سرهارد دیني په ښکلي وینا کي د امیرد روغتیا اوخپل هیواد ته په خوښی دبیرته خوشاله تګ هیله وکړه. امیرهم په ځواب ښکلي وینا وکړه او زیاته یې کړه چي دی په خومره خوشالي سره خپل هیواد ته دخپل ملګري له کوره،له هغو سرګرمیو او یادګارونوسره چي ده په هندوستان کي ولیدل ستنیږي.ده په هند کي ډیري خوشاله ورځي درلودي، مخکي له دې چي دی هند ته راشي ده یوازې یوځوتنه ملګري هغه هم دکاغذ پرمخ درلودل،خو برعکس اوس زیات شمیرملګري،هغه هم نه د کاغذ پرمخ له ځان سره لري .

له ما ښامني وروسته د ښایسته شمیرخلکو پیژندګلوي له امیرسره وشوه،خو دده زیاته پاملرنه په دغو ټولوکی یوازې یوځوتنوته وه. چي دهغو په ډله کي دوي د (سرهارولډ دیني ) لوراني اویو دوه نوري وي .

وخت په نا وختی وراوښت اوما هم خپل ساعت په مات زړه ده ته وربښکاره کاوه، هغه خپل راویوست،هغه چي زما له ساعت سره تر ماښامنی د مخه برابرو. خو اوس هغه زما له ساعته یوساعت وروسته پاتي و.هغه وویل چي دده ساعت سم دی او زما وران، ما ولید چي هغه غواړي تر ناوخته پوري پاتي شي،همداوه چي موږ ترنژدې (۲) بجو پوري پاتي شوو. زماهم زړه نه و چي پرهغه باندي بیره وکړم، ځکه چي دا په یوه متمدنه ټولنه کي دده وروستنی شپه وه چي له اوږدې مودې وروسته ورته راغلی و.مخکي تردې چي نن شپه دمیلمستیا پرلور حرکت راوکړو زه امیر په ډیره مهرباني سره په خپل فرمان چي هغه لومړۍ درجه (سرداري ) ویاړو ونازولم. ده همداسي د (ستور ) ویاړنښان فرمان هم زما پرلاس ښاغلي (دابس ) ته را واستاوه. دا دواړه ښکلي طلایی نښانونه ول. ده ما ته نوري ترډغو ټیټي بهادری لکه د حرمت، عزت اوخدمت هغه چي ده غوښتل سبایی له ده سره په دنده کی نوروانګریزي مامورینو ته ورکړي را وښودی .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ده ماته وويل چې سرداري نښان يوازې دسرداري لقب او وياړدخاوندانو لپاره ځانګړي شوی دی. داشان هرمهم نښان لکه سرداری اوستوردهغو وړونکو ته په افغانستان کې د توپ ويشتلو دمراسمو په ترڅ کې سپارل کيږي. دی به ددغو نښانو رسمی اسناد له کابل څخه راواستوي .
ما له هغه پوښتنه وکړه چې اوس زما سيال په افغانستان کې څوک دی ، معناداچې له چا سره زما مقام يوشی دی،هغه وويل، له هيچا سره . دده پلاردغه رتبه کلونه مخکې را منځ ته کړې وه،خو نه هغه اونه ده خپله لاتراوسه داسی څوک ومونډ چې داوياړيی په برخه شوی وي.زه اوس لومړنی ګټونکی اوپه افغانستان کې ترټولو لوی سرداروم.
هغه نيت درلود چې دغه بهادری خپل کوم زوی ته ور ډالۍ کړي .
اوامير سبا ته ډاڼپه سراخيستی و، او زه هم کټ مټ .

## پنجشنبه د ۱۹۰۷ کال دمارچ (۷) - پيښور

موږ بايد خپل سفرنن سهار وختی د اورګاډي په واسطه په (۸) بجو پيل کړو ، ځکه نو زه په (۷:۳۰ ) بجو داميراستوګنځي ته ورغلم اوهلته له ( سرهرالډ دينی ) او جنرال ( سر ايي بارو ) اودپيښورله نورو لويوچاړواکو سره يوځای شوم .
اميرهغوی ټول کينول، موږ ټول کيناستواوديوڅوشيپولپاره موخبرې وکړې،هغه يو دوې ډيرښکلي خبرې وکړې،چې د ملګرتيا په اړه وې، ده داخبره تکرار کړه چې دی دهغه څه، دهغو اسانتياوولـه املـه چې دده لپاره په هند کی برابرې شوې وې څومره خوشاله او مننډوی دی.هغه وويل چې دده احساسات نن پوره يوه ګډه بڼه لري ،هغه له دې امله چې نن بيرته خپل هيواد ته ،خپلې کورنۍ ته ورستنيده بايد خوښ وای، خو داسی نه وه .دهغه خوښي دهغه له خواشينۍ سره په يوه توله کې وه ځکه چې هغه نن خپل هغه ټول دوستان چې په هند کې يې موندلي وو، پريښودل، که هغوی ټول نن په پيښورکې سره راغونډشوي وای ده به له هغو ټولوسره په هغه درد سره خداپامانی کړی وای لکه چې په کلکته او بمبی کې يې وکړ،خودی به کله هم نورهغه څه ونه کړي .
موږ په خپل ټاکلي وخت تګ ته تيارو،، يوازې په وروستيو شيبو کې زموږ تګ له دی امله وځنډيده چې اميرد ( سرهرالډ دينی ) لورانو ته ليکونه ليکل اوله هغوڅخه يې ددوی دعکسونوپه اړه معلومات غوښتل.داکاروشواوهغه يې ما ته راکړل چې بايد ورويې رسوم اوموږ دتم ځای پرلوردخيلي سپړلۍ واګي ور ايله کړل. سړکونه دپوځونوپه کتارونو پوښل شوې ول. خو دځايی خلکو ګڼه ګوڼه دهغې ورځې په انډول چې موږ د لومړي ځل لپاره پيښورته راننوتو ډيره کمه وه خوکيدای شي چې لامل يې دسهاروختي حرکت وي ،خکه پيښوريان ناوخته له خوبه راپورته کيږي ، هغه هم په داسي يوه ساړه سهارکې لکه ننني .
دپيښورټولو لوړپوړو چارواکو دپليټ فارم پرلورځانونه ورسول اوهلته يې له اميرسره تود خدای پامانی وکړ،له هغه وروسته ګاډی پرحرکت شو .
اميرله ټولو انګريزي بدرګه والومامورينوڅخه هيله وکړه چې دده ډبې ته راټول شي ،هلته يې له ټوليدوسره سم دالاندې وينا وکړه :
غواړم ټول چارواکي په افغاني بهادريو باندې وستايم، ځکه دوی په پياوړې اراده زما دسفر په اوږدو کې زما خدمت وکړ، دوی خپل ټول هغه څه په هرځای اوهروخت کې زما لپاره ترسره کړل چې شونتيايې ددوی په توان او واک کې وه، زه دغه وياړونه زما اوزما دحکومت له خوا دوی ته ډالۍ کوم،هيله من يم چې کينګ امپرربه هم په خوښۍ سره تاسو ته د دغو د اغوستلو اجازه درکړي څو تاسو يې هم پرته له هرډول ځنډ اوخنډه هغه واغوستی شئ ، ما په دغه اړه په خپل وخت کې فکرکړی، زه به آن تلګراف هم ور وکړم اوهيله به ترې وکړم چې تاسوته ددغوبهادريو دټومبلو اجازه پرته له هرډول ځنډه او خنډه درکړي .همداسې لکه چې عالی جناب ويسرای هم زما دستاينې په نيت باندې د زړه له کومې پوهيږي .
ما دمخه د سرهنري ميک ماهن په ستوري او سرداري لومړۍ درجه بهادرۍ او مستردابس می په ستورباندې ستايلی دي .زه اوس دا لاندې کسان هم په دغو وياړونه ستايم :
ميجر برد او بروک ته د حرمت نښان .
ميجردک اوکيپتانانو ) درم مونډ اورامسي ( ته دعزت نښان
فيلد لفټننټ جنکين او ميزرس ، پلکينګټون او واګ ته دخدمت نشان
ددغوټووياړونو امتيازونه اوحقوق به زه ټول له افغانستان څخه د سرميک ماهن له لارې راواستوم .
دغه نښانونه ده په خپله دهريوه پرسينه باندې ور وټومبل او تودې مبارکۍ يې هريوه ته وويلې .
په دغه شيبه کې زموږ اورګاډی جمرود ته ورسيد، موږ ټول خپلو ډبو ته را ستانه شوڅوخپل کالي بدل کړو اوځانو ته دخيبرله سفرسره سمه آرامتيا ورکړو .
کله چې زه بيرته داميرډبۍ ته ورغلم،هغه ديوه ليک په ليکلو باندې بوخت و، کله يې چې هغه وليکه، بيا يې ما ته راکړ، چې زه يې وژباړم او بيايې ميرمن (فريسر) ته واستوم. داورګادي دوه تالاره چې هغه دلويديزبنګال په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ګورنر (اندریوفریسر) پورې اړوند وو د ټول هند په دوره کې دامیرله خوا وکارول شول. په دغه لیک کې هم میرمن فریسرته ویل شوي وو : لکه څنګه چې دغه ګاډی اوس دکلکتې پرلور بیرته ګرزي ، دی باید له هغوسره له ناچارۍ اودښو هیلوپرلامل له هغې او دکلکتې له ښکلو ملګروسره خداپاماني وکړي ،هغه په دغه اورګاډي کې نژدې (۷۰۰۰) مایله سفروکړ،دغه چې اوس یې په افسوس اودریغ سره پرېږدي .
په پلیت فارم کې د امیرپه غوښتنه زما ټول ځایی مرستندویان دریدلي وو، ده هغوی ته یوځوله مهرباني ډکې خبرې وکړې اوله هغو څخه یې د زړه له کومې ده ته دښوخدمتوپرلامل مننه وکړه ، ده د دوی لپاره ددوی دښیګڼې په لامل لنډه دعاوکړه اوله هغه وروسته د خپلې سپرلۍ بګۍ ته وروخوت، زما هیله وه چې دی به له هغو سره لاس ورکړي ، خوهغه دا کارونه کړ .
زه اوهغه یوازې دده شاهي بګۍ ته وروختو، دی سره له دې چې له ماسره له خیبره دکښته پرلورمخ په وړاندې روان و، زما په عین حال کې هغو دووغټو او مزیو سردارانو ته هم پام و،هغوی چې له موږ سره دیوې ګاډۍ په مخنۍ څوکۍ کې مخامخ موږ ته ناست وو، موږ د سپروپه ملتیا او بدرګه خپل سفرپیل کړ،اوزرذخیبرد سړک پرهسکواو ټیټو ورکیوتو،امیرپردغه مهال خپله خبره د داسي ګاډیو په انډول دموټرونو دسفر دښه والي او آسانتیا په باره کې پیل کړه . هو، هغه وویل چې دی به ترټولو دمخه یوښه سړک له کابله ترجلال آباد پورې او بیا له جلال آباده ترخیبره جوړکړي، څکه چې دی به نورهرکال جلال آباد ته په موټرکي سفرکوي او همداسي کله چې بل ځل دی هندوستان ته راځي نودی به په موټرکي راځي. ما ورته وویل چې ښه سړکونه یوازې دموټرود سپرلۍ لپاره مهم نه دي، بلکې هغه د اداري پرموخه هم مهم اواړین دي.هو،هغه په دې اند و چې باید پرهره خوا یې وغزوي .
ماورته په ګوته کړه چې ترخیبره پورې دوه مارپیچي سړکونه ترموږ دمخه دلته غزیدلي وو،د دریم بشپړسړک په اړه موهم خبرې وکړې،هغه چې د ملاګوریو پرسیمه ترغرونو هاخوا تیرشوی دی، ما وویل :
- » ترنشته ښه دي «
خو داچې امیرزما په دغه خبره چې ګواکي ډیرښه نه دي یوڅه سره حیران اوپه سوچ کې شو نوویې ویل :
» -ولې ښه نه دي ؟ «
ما بیا ورته وویل :
- نن سبا دا درې واړه ګډې لارې یوازې د یوه کوچني پوځ د رسد پرلامل کاریږي،همدغه دمناسبو اړیکو ستونزه وه چې د مشرانولیوالتیا اود مخکې په ودې اړیکولامل و چې اوس ټول ملګري او دوستان په دې نیت شوي دي چې که ورځ یې راغله دوی به له افغانستان سره دمرستې لاس ورکوي،پرهغه مهال به بیا دیوه کوچني پوځ خبره نه وي ، بلکې دیوه پراخ او لوی پوځ به وي .
امیر په ځواب کې وویل :
- » هو، نه یوازې دیوه لک بلکې دلکونو وکړو «.
ماورته وویل :
- دا دومره پوځیان به بیا څنګه سمبال او رسد کیږي ،نن سبا هرڅه د هرې ورځې په تیریدو سره درنیږي، لکه توپونه، وسلې، هغه اړتیا وې چې اوس یوعصري پوځ دهغو لپاره اړدی، هغه ټولې درنې وسلې دي چې د تیرو وختو په انډول د لوی اومنظم ترانسپورت غوښتنه کوي .
امیرپه خواب کې وویل :
- همداسي ده ، د ۱۲ پونډو توپونوځای اوس داسي درنو وسلو نیولي چې هغه باید د څلوربولو په واسطه ولیږدول شي اود هغو دخوراک غم هم باید وخوړل شي .
ما ځواب ورکړ :
- » یوپوځ په رښتیاهم ډیرودرنو شیانوته اړتیالري،که یو پوځ غواړي چې ستا مرستې ته درودانګي نو ورده چې ترخیبرهغه خوا باید داورګاډي دپټلۍ د بندو بست پلان ترلاس لاندې ونیول شي . «
امیروویل :
- » زه پوهیږم ، په دغه برخه کې به هم وګورو، په دغه اړه اوس زه نورڅه نه شم ویلای، له ماسره ډیرې خبرې شته چې کله زه خپل هیواد ته ورسیږم هغه باید ټولې ولیکل شي . «
موږ ترخیبره پورې خپله ټوله سپرلې په خبروسره تیره کړه،امیربیا ځلې یاده کړه چې پرده باندې انګریزي مامورینو څومره اغیز وکړهغه وویل :
- » هرڅه ښه وو،هرڅه ښه وو، یوهم بد نه و، هغه چې ما ولیدل . «
بیا یې ماته وویل چې دی به بې له ځنډه بیاهندوستان ته زر راشي، له ځان سره به داخل یوازې شل تنه اړوندان راولي، ده زیاته کړه چې دی به داځل په شخصي توګه لکه یوجنټلمین څوک راځي .ما ورته وویل چې دی باید یوه ورځ انګلند ته ولاړشي.ده وویل چې دی هم غواړي،خوترهغه ړومبی باید یوځل بیا هند ته راشي اودلته باید خپل دوستان اوملګري وګوري.ده انګلند ته دتګ ډښه او وړ موسم په اړه پوښتنه وکړه چې ما یې ځواب ورکړ .
دی ډیرلیوال و چې له کینګ اوارډ سره وګوري اوانګلند ته ورشي ده وویل چې

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دی به هلته یوه ورځ ځي اوهیله یي څرګنده کړه چي  دی به په خپله انګريزي باندي کاروکړي،کله چي بیا هند ته راځي باید چي په ویلو اولیکلو دواړوکي ستونزه ونه لري .
خیبرته کښته زموږ په لاره کي دسرک پرغاړه باندي زموږ پاملرنه د افریدیو دشخړییزاوپیژندل شوي مشر خواص خان  زخه خیل افریدي دکلا پردیوال باندي شوه،هغه څوک چي دم ګړی  په افغانستان کي دفراري په توګه اوسيږي، ما دهغي پټي لاري په اړه چي لکه بدرفت غوندي له کلاڅخه ترحکومتي سرک پوري غزیدلې څرګندونه وکړه، چي دا یوازنی لاره ده چي له مقابل کلي څخه  پرهغي باندي ددغه ځای اوسیدنکي پرته له دې چي ډزپرې وشي ترحکومتي سرک پوري تلای راتلای شي .کله چي حکومتي سرک  ته راداخل شي، بیا څوک حق نه لري چي پرهغه باندي ډزوکړي .امیر دغه ټکی ته زیاته پاملرنه نه کوله، خو نن یی پرما غږ وکړ چي په دغه باره کي هرڅه یوځل بیا ده ته برابرکړم لکه چي ما دا کاروکړ،هغه وویل چي که موږ دا ضبط کړو، نوبیا به څه پرې وکړو، ما ورته وویل چي هوټل به تري جوړکړو،هغه په لوړآوازسره وخندل او ویي ویل :
-دابه په ریښتیاهم داسي و لکه په بمبی کي تاج محل هوټل،
موږ بیا ددغو افریدیو د شغالي ډوله ژوند په اړه هم خبرې وکړي، چي هغه  وویل  :
- هغه په ریښتیا هم ناشکرانسان و،
زه اندیښمن یم چي د ملک خواص خان افریدي اودهغه دملګرو په اړه به یو دپاملرني وړتوپیراوتګلاره ،کله چي امیر بیرته افغانستان ته ورګرزي ولیدل شي .
موږ دیوې بجي په شاوخوا کي لنډي کوتل ته ورسیدواوامیرهلته د خیبر دټوپکوالوافسرانوهغه بلنه چي له دوی سره به  ددوی په خوړنځي کي غرمني خوري په خوښی سره ومنله .مخکي تردې چي موږ خوړنځي ته ولاړشو ، دتلګرافي وسیلي خونی ته یو ځل بیا ورغلو،ما له هغه ځایه  دده لپاره  دده له یوه سرې سره چي په پیښورکي پاتي و،دخبرو کولولاره چاره برابره کړه، امیروتوانیده چي له هغه سره ددغي مخابرې له لارې خبرې اترې او پوښتني وکړي، ما کله هم داسي فکرنه کاوه چي دی به ددغي تلګرافي وسیلي دنبوغ په اړه شک لري، خوکه یي په دغه اړه شک هم درلود،نن هغه ګرد له ده سره پای ته ورسید .
 امیرخپله دخیبرټوپکوالوخوړنځی ته دغرمنی په موخه پرته له دې چي نوراړوندان یي ورسره وي داسي لکه یو جنټلمین یوازې راغی .داسي چي تردې دمخه داسي نه و،دده دغه چلن دهغه چلن برعکس و لکه چي دوې میاشتي میاشتي دمخه یي په همدغه ځای کي درلود .له دغو افسرانوسره یوځای ډوډۍ خوړل به دټولوافریدیو دسیمي لپاره یومهم درس شي .چي هیله من یم دوی به یي د زړه له کومي په پام کي ونیسي .
موږ اورده شیبه په خوړنځي کي کیناستو،ماسپښن شوی و، چي امیرله دغه ځایه حرکت وکړاوله همدغه ځایه نورنودده دهندوستان دسفردپای پیل و .
موږدخپلواسونو په سپرلی دلنډي کوتل پرکړلیچي سرک دلنډیخاني پرلورحرکت پیل کړ، زه اوامیرپه مخکي وو، ماته یي وویل  چي دغه سرک یي نه خوښیږي  ، دواړه ځلي یي دلته څورونکی سفردرلود.دلومړي ځل لپاره ده هغه مهال خپله ناخوښي څرګنده کړه چي دی نه پوهیده، چي دی پرکومه خوا روان دی او یا پخوا ددغه ځای حالت څه ډول و،خو اوس یي ترپخواهم دغه لاره ډیره بده ایسیده. ځکه چي اوس دغي لارې دی له خپلو ملګرو څخه لرې کاوه.
موږ دکښته راتلو په اوږدو کي خبرې کولې،خو پوهیدم چي پرامیر باندي دهرڅه زیات اغیزهمداسي پاتي شوی و.
هغه هیله درلوده چي تل باید دی ماته راولیکي او زه ده ته،موږ داهم سره غوټه کړه چي په راتلونکي ژمي کي،کله چي دې کندهار ته راځي هلته هم سره وګورو.دغه شیبه دده د سفر په ترڅ کي ډیره حیرانونکي شیبه وه،ځکه یي وویل :لومړي په اورګاډي کي، بیا پراسي بګۍ او اوس بیا پراس باندي،هغه زیاته کړه چي له لنډي کوتله ترلنډی خاني پوري دغه ټوله لاره  ډیره ځورونکي ټوته ده. **خو ما په ځواب کي ورته وویل چي :هو ، دغه لاره ان له جمروده بیا تر ډکي پوري ځورونکي ده . نه یوازې زموږ لپاره چي نن پرې روان یو، بلکي دابه د دواړو هیوادو لپاره یوه ستونزه، په تیره بیا چي یوه ورځ  په ګډه دیوه ګډ هدف پرلورګډ ګامونه پورته کوو،هغه ځواب راکړ :**
**- » هو، زه پوه شوم «**
ما هیله څرګنده کړه چي دي به له خپلي کورنی اوزامنو سره په خیر یوځای شي ، او دامي لاهم ورزیاته کړه چي زه افسوس کوم چي دده مشرزوی عنایت الله خان مي کله هم نه دی لیدلی.ده راته وویل » :**وبه شي، زه دعاکوم چي هغه به یوه ورځ دیوه ښه سرې په توګه راڅرګند شي . «**
موږ اوس لنډي خاني ته رارسیدلي وو،زیاتو افغاني سپرو زموږ پرلورحرکت راوکړچي امیرووینې، له دوی سره زیات شمیر قبایلي خلک او مشران هم وو چي دامیردهرکلي شعارونه یي دهغه مخې ته لیږدول،خو ده دغو ټولوته زیات اهمیت ورنه کړ،هغويي پریوه خواپرینودل اوله ماسره د سینډکي غاړې ته لاندې راغي، پرهغه ځای چي له ماسره دراتګ پرمهال هم دده لومړنی کتنه شوې وه .
دلته امیر اوموږ ټول پلي شوو، ده موږ انګريزي افسرانوته دتلګرامونویوبنډل چي د انګلستان دپاچا، ویسرای،لارډ کیچنراو نورو په نومونو وو راکړل او سپارښتنه یي وکړه چي هغه ټول باید وژباړم اوهغوته یي باید واستوم، په دغو کي یي یواوږد لاسلیک شوی تلګرام رویترته هم لیکل شوي و، ده څه وکړه چي دغه ټول تلګرامونه یویو ماته ووایي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

،خو دلوستلو په ترڅ کې احساساتوغلبه پرې وکړه او ویې نه شوای کولای چې دخپلو لوستلو لړۍ اوږده کړي، زموږ پرخوا یې شا کړه، موږ لیده چې هغه په څه شان هڅه کوله چې ځان عادي حالت ته راوګرزوي،پاتې تلګرامونه یې عظیم الله خان ته ورکړل چې موږ ته یې راواوروي .
وروسته بیا امیرله افسرانو سره غاړه غړۍ شو او له ټولو سره یې پرلاسوتود خدای پاماني وکړ. بیا یې زه دنالي په څنګ کې یوې غاړې ته کړم، دومره چې ظاهرآ داسې ښکاریده چې ګواکې موږله سترګو الونیا یو، دی هلته په بشپړه توګه په ژړا شو،هغه خپلې متې پرما راتاوکړې او زما پراوږو یې لکه ماشوم داسې په ژړا پیل وکړ، زه یې په دواړوخواوو ښکل کړم او له ماسره یې خدای پاماني کاوه
چې بیا یې سترګې راډکې شوې ، بیایې زما پراوږو باندې سرکیښود او بیاځلې په ژړا شو .پرما هم دغه حالت ډیراغیزوکړاوزه یې هم په ژړا کړم، بیا دواړو په ګډه حرکت وکړاوراته ویې ویل چې زه او زما افسران ټول سپاره شو،دی په خپل آس سپورشواویوځل بیا یې له موږسره خدای پامان ووایه ، خو غږ یې له توانه لویدلی و، ماته یې لاس په داسې حال کې چې اوښکې یې پرمخ را رواني وې وښوراوه،خپل اس یې په داسې حال چې نورخپل کسان یې ورپسې وو د درې پرلوررروان کړ، ما دده په اړه د ژورې خواشینې احساس وکړهمداسې موږ ټولو ، پردې چې دی په څه ډول بې نظمه ماحول لکه چې دی هم ښه پرې پوهیږي اوزه هم داسې فکرکوم ورمخه دی . دده بیرته ورتګ به ده ته څه زیرمه کړي وي،اودی به څومره وخت او چانس ولري چې خپلې پرمختیایي پروژې او اصلاحات دې دتعصبونواو توطیو په زړه کې عملی کړای شي، په دغه حالت کې چې نه دې څه پرې ویلای شي او نه موږ .
دده ټولو سردارانو له موږ سره خورا تود اواغیزناک خدای پاماني وکړ، دوی ټول له دې امله چې له موږه بیلیږي ډیرخواشیني وو، دواړو خواودښو شیانو اوښوخاطرویادونه کوله، نادره خبره وه چې سرې ویلې وای چې داهماغه کسان دي ،هغوی چې موږ دوې میاشتې دمخه ورسره ولیدل .
موږ ترهغو چې دوی موله سترګو پناشول، ورته ولاړوو، له هغه وروسته مو په بیره د لنډې کوتل پرلور رامخه کړه ، دامهال د مازدیګر پنځه نیمي بجې (۳۰: ۵) بجې وې. زموږ پلان داسې و چې موږ باید نن شپه ځانونه پیښورته ورسوو، دچټکې ځغلونې او سپرلی له امله موږ ترتیارې دمخه جمرود ته او دشپې ترلسو بجو پورې پیښورته ورسیدو .
امیرماته زیات تلګرامونه راسپارلي ووچې هغه باید لومړی وژباړم او بیایې خپلو خپلو ځایونه ته ورسوم، د رویترپه ادرس دده په خپل لاس لیکل شوی پیغام هند ته دده دسفر دپای اودده درضایت په اړه یوخورا مهم سند دی چې زه یې دلته رانقلوم :
»دلوی خدای په نامه ،
**له هند څخه دافغانستان قلمرو ته زما د بیرته تګ پرمهال،**
**هند ته زما سفر ټول ټال (۶۴) ورځې و،داسفر ماته دومره دخوشالۍ وړ و چې زه یې د څرګندولولپاره الفاظ نه لرم، په دغه ترڅ کې دهند دحکومت له خوا هرډول مهرباني اوخواخوږي ما ته راوښودل شوې، جلالتمآب ویسرا، لوی قوماندان ( ستردرستیز) او دهند نورو پوځي اوملکي چارواکي دافغانستان اوزما دملګرو په شان وو، زه پردې وتوانیدم څوپه داګه دا ووایم چې هند ته زمادغه لنډ سفرپه ترڅ کې ما دافغانستان دحکومت او ځان لپاره دومره ملګري ومونډل چې ما په تیرو شلو کالو چې هند ته له افغانستانه نه وم راغلی، نه وو موندلي .**
**زه نن له همدی امله افغان ملت او ځان ته ددغو ښوملګرود پیژندګلوی او موندنې له امله مبارکي وایم .**
**زما ملګري سرهنري مک ماهن به زما دغه پیغام رویتر آژانس ته دټولې نړۍ دخبریدو پرلامل دخپریدو لپاره ورسوي » ( سراج الملته ودین )**

او داو هندوستان ته دامیر دلومړني سفر پای

پاتې لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ